# يُؤْتَى بِالرَّجُلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَيُلْقَى فِي النَّارِ، فَتَنْدَلِقُ أَقْتَابُ بَطْنِهِ، فَيَدُورُ بِهَا كَمَا يَدُورُ الْحِمَارُ بِالرَّحَى

له اسامه بن زيد رضي الله عنه څخه روايت دی وايي هغه ته وويل شول چې: آيا ته عثمان ته نه ورځې چې (د شته فتنو په اړه ورسره) خبرې وکړې؟ هغه وويل: آيا تاسو فکر کوئ چې زه ورسره خبرې نه کوم، څکه چې تاسو ته مې ډېرته ندي اورولي؟ قسم په الله چې ما ورسره يو په يو خبرې کړي، خو نه غواړم داسې کومه خبره ډاګيزه کړم، چې زه لومړی کس اوسم په ډاګه کوم يې او نه هم هغه چا ته وايم چې پر ما باندې حاکم وي چې: هغه تر ټولو غوره انسان دی، څکه ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې ويل يې: «يُؤْتَى بِالرَّجُلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَيُلْقَى فِي النَّارِ، فَتَنْدَلِقُ أَقْتَابُ بَطْنِهِ، فَيَدُورُ بِهَا كَمَا يَدُورُ الْحِمَارُ بِالرَّحَى، فَيَجْتَمِعُ إِلَيْهِ أَهْلُ النَّارِ، فَيَقُولُونَ: يَا فُلَانُ مَا لَكَ؟ أَلَمْ تَكُنْ تَأْمُرُ بِالْمَعْرُوفِ، وَتَنْهَى عَنِ الْمُنْكَرِ؟ فَيَقُولُ: بَلَى، قَدْ كُنْتُ آمُرُ بِالْمَعْرُوفِ وَلَا آتِيهِ، وَأَنْهَى عَنِ الْمُنْكَرِ وَآتِيهِ». «د قيامت په ورځ به يو سړی راوستل شي او اور ته به واچول شي، نو کولمې به يې راووځي، هغه به خپلې کولمې په ځان پسې راکاږي او داسې به تاوېږي لکه څنګه چې خر مېچن تاووي، نو دوزخيان به ورته راټول شي، وايې به: اې فلانکيه، په تا څه شوي؟ آيا تا به خلکو ته په نېک امر نه کاوه او له بد به دې نه منع کول؟ نو وبه وايي: هو، ما به په نېک امر کاوه او خپله به مې نه کوله، او له بديو به مې خلک منع کول او خپله به مې کوله».

[(صحيح) [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

اسامة بن زيد رضي الله عنهما ته وويل شو: آيا عثمان بن عفان رضي الله عنه ته نه ورځې چې د هغه فتنې په اړه ورسره وغږېږې چې د خلکو تر منځ راپاريدلې ده، تر څو يې ختمه کړې، نو هغه ورته وويل چې په پټه يې ورسره د اصلاح لپاره خبرې کړي دي، نه دا چې فتنه راوپاروي، موخه يې دا وه چې نه غواړي د خلکو په مخکې په واکمنانو نيوکې وکړي، څکه دا کار د خليفه په وړاندې يو ډول جرات دی، چې دا په خپله د شر او فتنې دروازه خلاصوي، حال دا چې زه نه غواړم لومړی کس اوسم چې دا دروازه خلاصوي. بيا اسامة رضي الله عنهما وفرمايل: چې دی په پټه واکمنانو ته نصيحت کوي او هيچا ته چاپلوسي نه کوي که هغه امير هم وي، او تملق ورته هم نه کوي چې د هغوی په مخکې يې ناحقه ستاينه وکړي، دا څکه چې هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي و چې د قيامت په ورځ به يو سړی راوستل شي او په اور کې به واچول شي، نو د سختې ګرمۍ او سخت عذاب له امله به يې په تېزۍ سره کولمې له ګېډې د باندې راووځي، نو په همدې حالت کې به خپلې کولمې د ځان پسې راکاږي او تاوېږي به لکه خر چې د مېچن تاوولو لپاره تاوېږي کله چې پرې اوړه کوي، نو دوزخيان به پرې د کړۍ په څېر راټول شي او پوښتنه به ترې وکړي چې: آيا تا مور ته په نېکۍ امر نه کاوه او له بديو دې نه منع کولو؟! نو دی به ووايي: ما په نېکۍ امر کاوه خو خپله مې نه کوله، او له بديو مې (خلک) منع کول او خپله به مې بدي کوله.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3345